AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند
۲۰۱۸/۱۲/۰۵

# «دود به دود

## پیسې ته بکش زودا!»

### څو شيبې له خوځنده مړيو سره



د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په شپږمه نېټه بيا کابل ته په يوه بيړني سفر روان شوم. کاروانه او ورسره سفرونه، کله د خوښيو پر بنا او کله د وېر په خاطر، بس بيا په همدې سلسله کې د کابل غيبرې ته ورغلم. ورو، ورو مې خپل کاروانه تر سره کول.

زه هم د نورو هېوادوالو په څېر وايم چې پر ما وطن ګران دی، پر ما کابل ګران دی، خو پر ما باندې داسې ګران دي چې زه يې ځان د ميينانو په ډله کې شمېرم. زه په کابل کې زېږېدلی يم، په کابل کې لوی شوی يم، په کابل کې ښوونځي او پوهنځي ته تللی يم او زما د ژوند ټول ويرونه او ټولې خوښۍ له کابل سره غوټه دي، ان تر دې چې په اروپا کې مې هره ورځ او لا هر ساعت د کوم ښاغلي دا نيم بيتی پر ژبه جاري وي:

### «... تا او کابل پيدا کولای نه شم.»

د همدې له پاره هر کله چې کابل ته لاړ شم د خپلو کارونو نه د وزګارتيا، د خپلې کورنۍ د غړو، دوستانو او فرهنګي ملګرو د ليدلو نه چې را خلاص شم، نو د کابل کوڅو او واټونو کې پلې ګرځم، خلک ګورم، خبرې يې اورم، که ممکنه وي عکسونه يې اخلم، د ژوند او کار طريقه يې وينم او که وکولای شم پوښتنه يې کوم او له دې ټولو سره ـ سره داسې ورځ به نه وي چې د کابل په سيند کې ناستو او پرتو مجبورو رټل شوو انسانانو ته ونه درېږم، ورته ونه ګورم او...

کابل او کابليانو ته له هره اړخه چې ګورې، داسې څه نه وينې چې سترګې دې پرې خوږې شي او ووايې چې دا دی د خلکو په ژوند کې يو مثبت بدلون هم راغلی دی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په څير و لولئ

## یوه بیلګه:

د کابل د کوڅو او واټونو د لیدلو په لړ کې، یوه ورځ په تیمورشاهي واټ باندې د پل باغ عمومي پر لوري روان وم، خپله ځواني مې را په زړه شوه، سینما ته د تګ وختونه، په ټیل ما ټیل کې ټکټ پیدا کول، بیا د فلم لیدل او...

لنډ تیمور شاهي سینما ته ورتاو شوم. لکه طواف چې کوم، ګرد ورنه راتاو شوم. ښکته پورته مې د سینما ودانۍ ته ـ چې په بېلابیلو برخو کې څو ځایه سورۍ وه ـ وکتل. غنیمت؟ نیونکي قومندان صاحب؟ له سینما نه ګودام جوړ کړی و او په کرایه یې ورکاوه. د دې حالت د لیدلو پایله د زړه درد او څو اوښکې وې. که تاسو درانه لوستونکي غواړئ چې زما د زړه له درده خبر او د څو اوښکو تویولو په احساس باندې پوه شئ، دا څو عکسونه وګورئ چې په د ۲۰۱۸ م کال د اکتوبر په شپاړسمه نېټه ما په خپل موبایل اخیستي دي:









افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## او اوس په کابل سین کې رټل شوي ناست او پراته، په نشو روږدي هېوادوال:

د رسمي ارقامو له مخې چې کورنیو او بهرنیو منابعو وړاندې کړي دي، په افغانستان کې درې میلیونه وګړي په نشو روږدي دي، خو زه وایم چې دا شمېره به تر دې هم لوړه وي او ورځ تر بلې په لوړېدو هم ده، بادرده خلک یې وایي او لیکي یې هم، خو څوک به د حللارې په لټه کې شي. په همدې نږدې ورځو کې ګران دوست انجنیر زهیر شینواري د دې ترخه حقیقت انځور د کلماتو په قالب کې داسې وړاندې کړی دی:

«د ننګرهارولایتي اداري په خواکې!
د جلال اباد - کابل د پاخه سرک په غاړه ، هره ورځ ، په رڼا ورځ، په لسګونو ځوانان ناست وي، ښکاره بې له ویرې او ډاره پوډر څکوي، خو هیڅوک ورته غږ غوږ نه کوي .
د پورتنۍ صحنې په لیدلو مې ناخاپه دا جملې ذهن ته راغلې:

* بې شمېره ځوانان مو هره ورځ په جګړو کې وژل کیږي،

* بې شمېره ځوانان مو هر ورځ د پوډرو په نیشو اخته کیږي،

* بې شمېره ځوانان مو هره ورځ په قاچاقي لارو خارج ته روان دي.

راتلونکې فقیر او غریب افغانستان زړو او امسا لرونکو بوډاګانو ته پاتې دی.»

کېدای شي دا خلک د خوند له پاره نشي او دود ونکړي، بلکې د روزګار د ستونزو له عذابه د خو شیبو کاذبې خوښۍ له پاره یې دې ډول نشو ته مخه کړې وي چې اوس له دې توري بلا څخه خلاصېدای نه شي. دا خلک په رېښتیا ډېر مجبوره او د زړه سوي وړ دي. ما (آصف بهاند) پخوا هم د دې مجبورو او له ټولنې څخه شړل شوو خلکو پر ژوند او مرګ باندې یوه مقاله لیکلې وه. دا مقاله ما هغه وخت ولیکله چې د همدې مجبورو او له ټولنې څخه شړل شوو خلکو د مړیو له پاره د ښخېدو ځای نه پیدا کېده.

## رابه شم دود به دود ته:

مخکې ما وویل چې داسې ورځ به نه وه چې د کابل په سیند کې ناستو او پرتو مجبورو انسانانو ته ونه درېږم، ورته ونه ګورم او... په کابل کې د خرابوالي یوه لویه د پام وړ او جدي غمیزه د نشیانو ډېر والی دی چې نور هم مخ په ډېرېدو دي. د پام وړ برخه یې له کورنیو، خلکو او ټولنې څخه جلا د کابل سیند په خوسا بستر کې شپې ورځې تېروي، حال یې ورځ تر بلې مخ په خرابېدو او شمېر یې په ډېرېدو دی.

د کابل سیند نه دباندې، لرې او نږدې دولت، حکومت، سیاسیون، ډلې ټپلې او لا فرهنګیان لګیا دي د خپل ځان او خپل واک او ځواک په خاطر یو د بل پر ضد کاروونه او جنګونه کوي، د راتلونکو ټاکنو له پاره خرڅونه کوي، آدرسونو ته ورځې دروازې ټکوي او معاملې سره کوي؛ خو د کابل د سیند دروازې او د نشیانو د کور وره ته هیڅوک نه ورځي او نه یې پوښتنه کوي. د دوی دروازې یوازې هغه وخت ورټکول کیږي چې عزرایل سره یې د کټنې وخت راورسیږي.
یو وارې مې سیند ته د ورښکته کېدو تکل وکړ، خو زما د کورنۍ یوه راسره زلمي په ډېر درناوي او زاریو سره قانع کړم او زما د ورښکته کېدو مخنیوی یې وکړ. بله ورځ چې یوازې وم او د وکوه ـ مکوه څوک نه وو راسره، څو بایللي او راسره زړونه مې یو کړل او ورښکته شوم، داسې ځای ته ورښکته شوم چې زه یې د فرخندې اورتون یا دوزخ بولم، د کابل سین په هغې برخې کې چې د فرخندې په نامه یو نازک بدن کباب کړای شوی دی. اوس د فرخندې په نامه د جوړ یادګاري ځلي تر پیک لاندې، په مخدراتو روږدو کسانو پناه اخیستي ده. د ورښکته کیدو په وخت کې یو لاروي غږ راباندې وکړ:

«او بیادر تا نه شو، دیوانه شدي، تو خو جور تیار مالوم میشي، اونجه چې میکني که تا میشي؟»
خو زه داسې ورښکته شومه، لکه د دې سرې خبرې مې چې اوریدلې هم نه وي. دوو تنو ته، چې د سیند دیواله ته یې ډډه لګولې وه او ځنګونه یې پر ورو نسونو نښلولي وو، ورنږدې شوم. په همدې شیبه کې ما ته دا لنډۍ را په زړه شوه:

چې کله، کله را په یاد شي
دیوال ته شا کړم، زړه ته ورکړم ځنګونه

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مخکي له دې چې زه څه ووایم، له هغو نه یوه وپوښتلم:

ـ چیزې آوردي، یا...

ما ورته په عاجزانه ډول وویل:

ـ نې چیزې ندارم، میخایم کتې شما ګډ شوم.

چې څنګه یې ما په څنګ کې کېناستو ته ځان جوړاوه، یوه تن یې په داسې حال کې چې مځکې ته یې کتل، په منظوم او هنري ډول یې دا جمله یا نیم بیتی راته وواېه:

**«دود په دود**
**پیسې ته بکش زود!»**

هلته د دې جملې په مانا یو څه پوه شوم، خو په ټوله مانا مې سر ورباندې خلاص نه شو. وروسته مې چې لټه پسې وکړه، راته وویل شول چې:
دا د کابل په سیند کې د پرتو نشیانو په منځ کې یو منلی قانون دی چې که دې مواد (مخدرات) درسره راوړي وي، نو دوی به درسره ملګرتیا وکړي او که دې نه وي راوړي او غواړې د دوی په حلقه کې کېنې، نو د **«دود په دود، پیسې ته بکش زود!»** د قانون له مخې به لومړی پیسې ورکوې، بیا د دود په حلقه کې د کېناستو حق درکول کېږي.

په کابل غوندې یو پنځه میلیوني ښار کې، د دې خلکو د پوښتنې هیڅ څوک نه شته. دولتي او حکومتي واکداران نه یوازې دا چې د دې پرمخ لوېدلو خلکو پوښتنه او لاسنیوی نه کوي، بلکې ډېر ځلې له همدې خوځنده مړیو نه سؤاستفاده هم کوي او د څو روپیو په بدل کې یې د حرکت مدني؟ او مظاهرات میلیوني؟ په نامه، په داسې غیر انساني او غیر قانوني بڼه کاروي چې له یوې خوا د دوی په حرکت مدني؟ کې د ګډون د حق الزحمې په ورکولو سره یې نور هم نشو او د تباهی کندې ته ورپورې وهي او له بلې خوا که د نشیانو د سیاهې لشکر پر اساس دا د واک تږي بریالي شي او کوم واک او مقام تر لاسه کړي، دا به یوه بله داسې غمیزه وي چې د دې ټولنې او خلکو د ویر ننداره به نوره هم اوږده کړي.



**دغه ویر پای نه لري!**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ